# خپله اصلاح څنګه کول پکاردي

25-February-2021



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# خپله اصلاح څنګه کول پکار دي

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. او ضِمناً به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاک آخري نبي، رَسُولِ هاشِمِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: په ورځ د قيامت به په خلقو کښې ما ته زيات نزدې هغه وي چا چې په دُنيا کښې په ما باندې کثرت سره دُرُود وئيلي وي۔[1]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]

---

1... ترمذی، وِتر کے ابواب، صفحہ:144، حدیث:484۔

2... جامع صغیر، صفحہ:81، حدیث:1284۔

اے **عاشقانِ رَسُول**! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ✿ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ✿ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې] كښينم ✿ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو هم نيت اوكړئ.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!** **صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## اِمام حسن بَصري او فِكرِ آخرت

**اِمام حسن بصري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابِعي بُزُرګ دے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډيرو صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان دِيدار كړے وو او د هغوئي نه ئې فَيض [بركتونه] اخستي وو، د مولائے كائنات حضرتِ سَيِّدُنا **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ئې د اودس طريقه زده كړي وه،[1] امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير زيات خوفِ خُدا لرونكے، عاجزي او اِنكِساري كوونكے بُزُرګ وو، **الله** پاک د هغوئي په ژبه كښې تاثِير ايښودے وو، ډيرې د حِكمت نه ډكې خبرې به ئې كولې، يو ځل ئې بيان كولو، حضرتِ سَيِّدُنا **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د دوئي بيان واوريدلو نو اُوئې فرمائيل: **سُبْحٰنَ الله!** دا د صِدِّيق كلام دے۔[2]

يو ځل امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چرته تللو نو د دريائے دجله غاړې ته ئې تشريف راوړلو او درياب باندې پوريوتلو د پاره ئې د كشتئ انتظار كولو، په دې كښې حبيب

---

1...تذكرة الاولياء، صفحہ: 20۔

2...آدابِ حسن بصرى، صفحہ: 23۔

عجمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هُم راغلو، هغوئي ترينه تپوس اوکرو: مُحترمه! چرته د تللو اِراده مو ده؟ حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اُوفرمائيل: درياب نه پورې غاړه تلل غواړم، د کشتۍ انتظار کووم- حبيب عجمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اُووئيل: په **الله** پاک باندې تَوَکُّل اوکړئ او په درياب پوريوځئ! حبيب عجمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دا خبره اوکړه او بخپله په اوبو د پاسه روان شو او په درياب پورې وتلو، امام حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې دا منظر اوليدو نو په زمکه راپريوتلو او بے هوشه شولو، چې کله په هوش کښې راغلو نو خلقو ترينه د بے هوشۍ د سبب تپوس اوکړو، اوئې فرمائيل: حبيب عجمي عِلم زما نه زده کړے دے او نن مې د کشتۍ نه بغير په درياب پورې وتلو اوليدلو نو ما ته د قيامت منظر راياد شو چې د قيامت په ورځ به د جَهنَّم د پاسه پُل صِراط کيښودلے شي او په هغې باندې د پوريوتلو حکم به اوشي، آه! که هلته هُم داسې اوشو چې خلق په پُل صِراط باندې پوريوځي او زه محرومه پاتې شم نو زما به څه کيږي؟ بس د هُم دې ويرې نه زه بےهوشه شوم-

پُل صراط آہ! ہے تلوار کی بھی دھار سے تیز | کس طرح میں اسے پار کروں گا یا ربّ! (1)

پُل صِراط دے د تُورې نه هُم تيره | څنګه به زه پرې پوريوځم رَبـه

يو څو ورځې پس د امام حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيا د حضرت حبيب عجمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره ملاقات اوشو، امام حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ترينه تپوس اوکړو چې تا دا مرتبه څنګه حاصله کړې ده؟ هغوئي عرض اوکړو، محترمه! **زه مسلسل د خپل زړه اِصلاح کووم**- حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې دا واوريدل نو په عاجزۍ سره ئې اُوفرمائيل: افسوس! خلقو زما د عِلم نه فائده واخستله او ما ځان له هيڅ اونکړے شُو- (2)

---

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:85-

[2]...تذکرۃ الاولیاء، صفحہ:41-

**اَللّٰهُ اَکْبَر! اے عاشقانِ رَسُول!** غور اوکړئ! زمونږه د بُزُرګانِ دِين څومره ښکلے سوچ وو چې هر وخت به په فِکرِ آخرت کښې مصروفه اوسيدل، اوګورئ! حضرت حبيب عجمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د امام حسن بصري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه شاګرد وو، په حقيقت کښې حبيب عجمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ته اوچته مرتبه حاصليدل د امام حسن بصري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فيضان [يعني بَرَکتونه] وو، د دې باوجود هغوئي د حبيب عجمي په داسې کولو ليدلو باندې فخر اونکړو بلکه عاجزي ئې اوکړه- ياد ساتئ چې! حضرت امام حسن بصري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه پخپله هُم باکرامته **وَلِيُّ الله** وو، يو ورځ اوليدلے شو چې: هغوئي د لمونځ کولو د پاره په اوبو د پاسه جائے نماز خورولو، يو ځل ئې د حج د سفر په دوران کښې د قافلے کسانو ته کجورې ورکړې، قافلے والؤ چې کجورې اوخوړلې نو کوم هډوکي چې ترينه را اُووتل هغه د سرو زرو وو- (1)

**سُبۡحٰنَ الله! سُبۡحٰنَ الله! اے عاشقانِ رَسُول!** اوګورئ چې پخپله د داسې اوچته مرتبه لرلو باوجود امام حسن بصري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه حضرت حبيب عجمي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په اوبو د پاسه تللو باندې اوليدلو نو په زړه کښې ئې د آخرت څومره فکر پيدا شو، د **پُلِ صِراط** په تَصَوُّر کښې ډوب شو او د **الله** پاک د ويرې نه په لړزان شو او عاجزي او انکساري ئې اختيار کړه او د خپل آخرت د پاره فکرمند شو- خو آه! مونږ داسې يُو چې شپه او ورځ مو د ګناهونو مِيېږ تيزئ سره روان دے خو د دې باوجود نه د شرمندګئ احساس لرو او نه د آخرت ويره-

## کاميابي صرف خپلې اصلاح کولو کښې ده

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** ياد ساتئ! کاميابي صرف خپله اصلاح کولو کښې ده، په دې دُنيا کښې هيڅ څوک هُم د بل په طاقت نه شي کاميابيدلے، يو عقلمند ډيره ښکلې

---

1...تذکرۃالاولیاء، صفحہ:22و51.

خبره کړي ده چې: ”په دې دُنيا کښې صرف يو انسان دے چې هغه تا کاميابۍ ته رسولے شي او هغه انسان ته پخپله ئې۔“

ديرشمه سيپاره، ، آيت نمبر 9 او 10 کښې اِرشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ زَكّٰىهَا ۪ۙ﴿۹﴾ وَ قَدۡ خَابَ مَنۡ دَسّٰىهَا ؕ﴿۱۰﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : بےشکه! مُراد ته اورسيدو هٰغه، چا چې دا (يعني نفس) پاک کړو او نامُراده شو هٰغه، چا چې دا په مَعصِيَّت (يعني گُناه) کښې پټ کړو۔ |

ياد ساتئ! ❁ د نجات دار و مدار په شُهرت نه دے، ❁ د نجات دار و مدار په عِزَّت نه دے ❁ د نجات دار و مدار په مال و دولت او عَيش و عِشرت نه دے ❁ د نجات دار و مدار په اوچت منصب نه دے ❁ د نجات د پاره صرف عِلم حاصلول کافي نه دي ❁ د آخرت نجات حاصلو د پاره خپله اصلاح کول ضروري دي، څوک چې په خپله اصلاح کولو کښې کامياب شو نو اِنۡ شَآءَاللّٰه! د **اللّٰه** پاک په رحمت او د هغه د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت حقدار به ګرځي، خو څوک چې په دې دُنيا کښې خپل ځان په هدايت رانوړے شي هغه به په آخرت کښې هُم محرومه او نامُراد اوسي، **اللّٰه** پاک په قرآنِ مجيد کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنۡ كَانَ فِیۡ هٰذِهٖۤ اَعۡمٰی فَهُوَ فِی الۡاٰخِرَةِ اَعۡمٰی (پ ۱۵، سورة بنی اِسرآئیل ۷۲) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : او څوک چې په دې ژوند کښې ړوند وي هغه په آخرت کښې هُم ړُوند دے۔ |

تفسیر **نُورُ الْعِرفان** کښې د دې آیت نه لاندې لیک دي: یعني په دُنیا کښې چې د چا زړه ړُوند وي، هدایت قبول نه کړي، هغه به په آخرت کښې د نجات او د جَنَّت لاره لیدلو نه ړُوند وي۔ (1)

راځئ چې مونږه غور اوکړو! **اللّٰه** پاک مونږ ته د لمانځه حُکم کړے دے، څوک چې د لمانځه تلقین خو کوي خو پخپله لمونځ نه کوي نو آیا هغه په حُکمِ اِلٰهی باندې عمل اوکړو؟ **اللّٰه** پاک د روژو نیولو حُکم کړے دے، **اللّٰه** پاک د دروغو، غِیبَت، **چُغلۍ**، حَسَد، تَکَبُّر، بدګُماني، وعده خلافۍ، الزامونه لګولو، کنزلې کولو نه د بچ کیدلو، د نظر ښکته ساتلو، د مور او پلار د ادب کولو، د خویندو او ورونړو د حقوقو ادا کولو، ګاونډیانو سره د نیک سلوک کولو، خپلوانو سره د ښیګړې کولو، ظاهري ګناهونو نه د بچ کیدلو، باطِني ګناهونو نه د ځان خلاصولو حُکم کړے دے، که څوک د دې ټولو کارونو نورو ته تلقین خو کوي خو پخپله په دې باندې عمل نه کوي نو آیا هغه د **اللّٰه** پاک په اَحکامو عمل اوکړو؟

**اللّٰه** پاک په قرآنِ مجید کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| کَلَّا لَمَّا یَقْضِ مَاۤ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾<br>(پاره30،سُوْرَۃُ عَبَسَ:23) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان : هیڅ نه، هغه تر اوسه پورې پوره نه کړو، کوم چې هغه ته حُکم شوے دے۔ |

که مونږه د قرآنِ مجید تِلاوت اوکړو، په قرآنِ مجید باندې ځان پوهه کړو نو معلومه به شي چې نورو ته د نیکۍ دعوت ورکولو او د بدو نه منع کوونکي د پاره خپله اِصلاح زیاته ضروري ده،

پاره 1، **سُوْرَۃُ البَقَرَہ**، آیت: 44 کښې اِرشاد کیږي:

---

1... تفسیر نور العرفان، پارہ:15، سورۃ بنی اسرائیل، تحت الآیۃ:72، صفحہ:797۔

| | |
|---|---|
| اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَ تَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَ اَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: آیا تاسو خلقو ته د نیکۍ دعوت ورکوئ او خپل ځانونه هیروئ، حالانکه تاسو کتاب لوَلئ، نو آیا تاسو عقل نه لرئ۔ |

د بعضو خلقو دا خیال وي چې مونږه ځکښې خپله مکمله اصلاح اوکړو نو بیا به نورو خلقو ته د نیکۍ دعوت ورکوو، دا هُم غلطه نظریه ده، مونږ به د خپلې اصلاح کولو کوشش کوو او نورو ته به هُم د نیکۍ دعوت ورکوو، **اللّٰه** پاک په قرآنِ مجید کښې د نجات حاصلولو د پاره دا دواړه څیزونه لازِم قرار کړي دي، دیرشمه سیپاره، **سُوْرَةُ الْعصر** کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ الْعَصْرِ ﴿۱﴾ لا<br>اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ ﴿۲﴾ لا | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د محبوب د دې زمانے قَسَم دے، بےشکه انسان ضرور په نقصان کښې دے۔ |

یعنې ټول انسانان په نقصان کښې دي، خو چې په چا کښې دوه صفتونه وي، هغه په نقصان کښې نه دے، وړومبے وَصف:

| | |
|---|---|
| اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ | خو چا چې ایمان راوړو او ښه کارونه ئې اوکړل |

او دویم وَصف:

| | |
|---|---|
| وَ تَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَ تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿۳﴾ ع | او یو بل ته ئې د حق تاکید اوکړو او او یو بل ته ئې د صبر وصِیَّت اوکړو۔ |

امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړے شو: آيا روحاني طبيب د نورو علاج کولے شي؟ هغوئي اُوفرمائيل: آو! کولے ئې شي خو اول دِ خپل علاج اوکړي بيا دِ د نورو کوي ځکه چې څوک پخپله د لارې نه بے لارې شوے وي هغه به د نورو رَهنُمائي څنګه اوکړي-[1]

هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه دويم سوال اوشو: خلق وائي: نورو ته هله نصيحت کول پکار دي چې کله بنده پخپله د ټولو ګناهونو نه پاک شي؟ هغوئي اُوفرمائيل: شيطان خو هُم دا غواړي چې د نيکئ د دعوت ورکولو او د بدو نه د منع کولو دروازه بنده شي[2] (يعني چې هر کس صرف خپله اصلاح کولو کښې مصروف شي او خپله مکمله اصلاح کولو نه مخکښې د نيکئ دعوت بالکل نه ورکوي نو په داسې صورت کښې به د نيکئ د دعوت کار بند شي او هُم دا د شيطان خواهش دے)-

*مجھے دے خود کو بھی اور ساری دنیاوالوں کو | سُدھارنے کی تڑپ اور حوصلہ یاربّ!* [3]

**ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو　　د اصلاح راکړې جذبه او حوصله يا ربّ!**

## د خپلې اصلاح نه غفلت د عذاب يو صُورت دے

**اے عاشقانِ رَسُول!** مونږ ته هر وخت د خپلې اصلاح ضرورت دے، که يو ډاکټر وي او که انجينئر وي، که وکيل وي او که جج وي، که بادشاه وي او که غلام وي، که مالدار وي او که غريب وي، که خان وي او که نوکر وي، که عالِم وي او که جاهِل وي، که سائنسدان وي او که دُکاندار وي، که هر څوک او د هرې مرتبے والا وي، هر يو ته هر وخت په خپله اصلاح کښې مصروف اوسيدل ضروري دي، د خپلې اصلاح نه غافله

---

1 ...تذکرۃ الاولیاء، صفحہ:18-

2 ...تذکرۃ الاولیاء، صفحہ:19-

3 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:76.

کیدل د عذابِ اِلٰهی یو صورت دے، سیپاره نمبر 28 **سُوْرَۃُ الْحَشْر** آیت نمبر 19 کښې **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِیْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْؕ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ(۱۹) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د هغوئي په شان مه کیږئ کومو چې **اللّٰه** هیر کړو نو **اللّٰه** هغوئي په مصیبت کښې واچول چې خپل ځانونه ئې هیر کړل، هُم هغوئي فاسقان دي- |

آه! مونږه د خپل ځان نه غافِله یُو او په نُورو باندې اعتراضونه کوو- معلومه نه ده چې د خلقو عیبونه لټول، د خلقو رازونه معلومول او د خلقو په کِردار اعتراض کول مونږ د کوم ځائے نه زده کړي دي، په قرآن مجید کښې **اللّٰه** پاک د خلقو د عیبونو لټولو نه منع فرمائیلي دي، دا د اسلام خاصِیَّت دے چې اسلام مونږ ته نورو ته د نیکئ دعوت ورکولو سره سره **د خپلې اصلاح ذِهن** هُم راکوي، اته ویشتمه سیپاره، **سُوْرَۃُ الْحَشْر** آیت نمبر 19 کښې **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍۚ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! د **اللّٰه** نه اُویَریږئ او هر نفس دِ اُوګوري چې د صبا د پاره ئې څه لیږلي دي- |

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا ډیر مشکل کار دے، د خپلو اعمالو جائزه اخستل، خپلې غلطئ ویستل ډیر مشکل کار دے- د **اللّٰه** پاک حِکمت دے چې **اللّٰه** پاک سترګې په مخ کښې جوړې کړې دي او دا صرف مخامخ ګوري، خپل ګریوان کښې کتلو د پاره سر ښکته کول غواړي، هُم دا سر ښکته کول د دُنیا د ټولو نه مشکل کار دے خو څوک چې سر ښکته

کړي، خپل ګریوان کښې اوګوري، هغه همیشه کامیاب اوسي، په حدیثِ پاک کښې دي: **مَنْ یُّرِدِ اللّٰہُ بِہٖ خَیْرًا اَبْصَرَہٗ عُیُوْبَہٗ** **اللہ** پاک چې چا سره د ښیګړې اِراده فرمائي، هغه ته د هغه عیبُونه اوښائي-

**اے عاشقانِ رَسُول!** دې دُنیا ته هر یو کس یواځې راغلے دے او ټول به خپل خپل **قَبْر** ته کوزیږي، آه! ډیره زر یوه ورځ راتلو والا ده چې آسمان به راغونډ کړے شي، دا زمکه به په بله زمکه بدله کړے شي، غرونه به ریزه ریزه شي او د مالوچو د پوسنکو په شان به په هوا کښې الوځي، آه! دا فاني دُنیا به خپل عِبرتناک انجام ته اورسي- ټول انسانان به دوباره راژوندي کړے شي-

**اللہ! اللہ!** دا به د حساب ورځ وي، څوک به پیدل، څوک سور او څوک به پړمخ راښکلو باندې د **محشر** میدان ته روان وي، د تانبے سره زمکه او لـمر به د یو مِیل په فاصله باندې وي او اور به راوروي، د ګرمۍ نه به د خلقو مازغه خوټکیږي، بعضې به په خپلو خُوَلو کښې ډوب وي، ژبې به د تَندې نه اوچې د ازغي په شان شي، زړونه به را اُوخوټکیږي او حلق له به راشي، هر یو به په خپل خپل تکلیف کښې اخته وي- آه! آه! آه! د هغه ورځې سختې ویرې--- **اَلْاَمَان وَ الْحَفِیظ!** هر څوک به په خپل خپل حال اخته وي، مور پلار، اولاد، ښځه او خاوند، خویندې ورنړه هیڅ څوک به د یو بل تپوس نه کوي-

**اَللّٰہُ اَکْبَر!** په هغه ورځ به د تیښتې لار نه وي، هیڅ څوک به هُم د خپل **ربّ** نه نه شي پټیدلے، زمونږه لاسونه او ښپے، غوږونه، ژبه او زمونږ څرمن به زمونږ خلاف ګواهي ورکوي، آه! زمونږه اعمالنامه به زمونږ په لاسو کښې راکړے شي، زمونږه وړوکي نه وړوکے عمل به هُم په هغې کښې لیک وي، مُجرمان چې خپله اعمالنامه اوګوري نو په لړزان به شي او وائي به:

| | |
|---|---|
| وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً (پاره:15، سورة الکهف، آیت:49) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان : هائے زمونږه خرابي! په دې لِیک څه اوشو، نه ئې وړه ګناه پریښوده او نه غټه- |

اے **عاشقانِ رَسُول!** ډیر د ویرې مقام دے---!! آه! د هغه نفسا نفسي په حالت کښې که خُدانخواسته غږ اوشي چې: اے فلانکیه! اُوګوره! دا هغه کس دے چې ستا په ترغیب ورکولو لـمونځ ګُزاره جوړ شوے وو، ده لـمونځونه کړي وو، نن دا جَنَّتي دے، اے فلانکیه! اُوګوره! دا هغه کس دے چا چې ستا درس اوریدلے وو، ده خپله اصلاح اوکړه، نن دا جَنَّتي دے، اے فلانکیه! اُوګوره! دا هغه کس دے په چا پورې به چې تا خبرې کولې، دا هغه دے چا سره به چې تا حسد کولو، اے فلانکیه! دا هغه کس دے د چا به چې تا غِیبت کولو، اے فلانکیه! اُوګوره! دا هغه کس دے په چا پورې به چې تا ټوقې کولې، اوګوره! دې ټولو خپله اصلاح کړي وه نو نن دوئي جَنَّتیان دي، اوس ته اُووایه ستا عمل څه دے، تا خپله څومره اصلاح کړي وه؟

**نُقصان! نُقصان! او سخت نُقصان!** افسوس! افسوس! سخت افسوس! که مونږه داسې د دُنیا نه تلي یُو، خپله اصلاح مو نه وي کړې، خُدانخواسته که لـمونځونه مو پوره نه وو، روژے مو پوره نه وے، د مور او پلار په خدمت او ادب مو ځان د جَنَّت حقدار نه وو جوړ کړے، که ګاونډیانو ته مو تکلیف ورکړے وو، خلقو ته مو کنزلې کړي وي، غِیبتونه مو کړي وو، **چُغلي** مو کړي وه، بد ګُماني مو کړي وه، د دروغو الزامونه مو لګولي وو، د خلقو عزتونه مو خراب کړي وو، که د خلقو په مخکښې ښه ښه کیدلو او خلقو خو مونږ نیک ګڼړلو خو یواځې ځائے کښې مو ګناهونه کول نو هغه وخت به زمونږ سره څه

کيږي، آه! که په ورځ د قيامت رُسوا شو نو مونږه کمزوري به چرته ځُو؟ هائے! څومره شرمندګئ سره به مخامخ يُو، آه! د جَهنَّم خوفناک عذاب به څنګه برداشت کړے شو؟

اے د جَنَّت طلبګارو! د دې نه اندازه اولګوئ چې د خپلې اصلاح کولو څومره اَهَمِّيَّت دے اوس مونږ ژوندي يُو، راځئ چې د خپلې اصلاح کوشش اوکړو، راځئ چې د نيک جوړيدلو کوشش اوکړو،

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خپلې اصلاح اَهَمِّيَّت واوريدلو، اُميد دے چې **اِنۡ شَآءَالله** زمونږه به د ګناهونو نه د ځان ساتلو ذِهن او د نيك جوړيدلو ذِهن جوړ شوے وي، راځئ چې! اوس د خپلې **اصلاح شپږ طريقے واورو** او په هغې د عمل کولو د کوشش نِيَّت هُم اوکړو:

## (1) خپل ترجيحات بدل کړئ

د خپلې اصلاح د پاره وړومبے کار کوم چې مونږ له کول پکار دي، هغه دا دے چې مونږ له خپل سوچ بدلول پکار دي، ځکه چې د کوم بنده سوچ ښه شي، هغه به يوه ورځ بخپله هم ښه شي، خو د چا چې سوچ بد وي، هغه که ښه وي نو بيا هم بد وي، ښه سوچ نصيب کيدل هم د **الله** پاك لوئ نعمت دے، يو عقلمند وئيلي دي چې: ښه سوچ راتلل هم د مقبوليت دليل دے.

په سيپاره **20**،**سُورَۃُ الۡقَصَص**،آيت نمبر **50** کښې دي:

| | |
|---|---|
| **وَ مَنۡ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيۡرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ** | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او د هغه نه غټ ګمراه څوك دے چې په خپلو خواهشاتو پسے شي د **الله** د هدايت نه جُدا- |

په دې آيت کښې د خلافِ هدايت خواهشاتو پيروي کوونکو ته د ټولو نه غټ ګمراهان وئيلے شوي دي، مونږ له په دې آيت غور کول پکار دي! خواهش د انسان

د فطرت حِصَّه ده، يو انسان هم د خپل ځان نه خواهشات پورا پورا نه شي ختمولے، خو د خواهشاتو رُخ بل طرف ته اړولے شي. ياد ساتئ! د کوم څيز چې سوچ نه شي کيدے، په زړه کښې د هغې خواهش هم نه پيدا کيږي، مَثَلًا د نن نه پينځه سوه کاله وروستو لاړ شئ او تَصَوُّر اوکړئ چې آيا هُغه وخت به خلقو د موبائل اخستلو خواهش لرلو؟ يقيناً نه، ولے؟ ځکه چې هُغه وخت د موبائل څه نوم او نشان هُم نه وو، معلومه شوه چې مونږه د څه معلومات لرُو، صِرف د هغې مُتَعَلِّق سوچ کولے شو او د کوم څيز چې سوچ کولے شو، صِرف د هغې خواهش مو کيدے شي.

هُم دغسې چې کله شوق بدل شي، نو خواهشات هم بدليږي، آيا مونږه کله خلا ته د سفر کولو د پاره د راکټ اخستلو خواهش کړے دے؟ کيدے شي چې په لکونو کښې به چرته يو کس وي چې د هغه په زړه کښې به داسې خواهش پيدا شوے وي، داسې ولې دي؟ ځکه چې مونږ ته معلومه ده چې زمونږه د خلائي راکټ سره څه تَعَلُّق نشته، نه مونږه راکټ چلولے شو او نه مونږه خلائي سفر کولے شو او نه زمونږ سره دومره وسائل شته، د دې برخلاف يو خلاباز، چې د هغه کار د خلا مُتَعَلِّق تحقيق کول دي، کيدے شي چې هغه به د ورځې لس ځله د راکټ اخستلو خواهش کوي.

اوګورئ! صرف د شُعبه بدليدلو سره سوچ بدليږي، چې سوچ بدل شي نو ترجيحات هُم بدل شي، او چې ترجيحات بدل شي نو د خواهشاتو انداز هم بدل شي، معلومه شوه چې که زمونږه سوچ بدل شي نو زمونږه ترجيحات هُم بدليدلے شي، ځکه که مونږه خپل سوچ بدل کړو نو ترجيحات به مو هُم بدل شي او بيا به مونږه په خپله اصلاح کولو کښې هُم کاميابيدے شو.

اللّٰه پاك په سيپاره **30**،**سُوۡرَۃُ الۡاَعۡلٰی**، آيت نمبر **16** او **17** کښې د اصلاحِ نفس ترغيب ارشاد فرمائيلے دے، بيا په اصلاح کښې د ټولو نه غټ چې کوم رُکاوَټ دے، د هغې

ذِکر کوي، فرمائي:

| | |
|---|---|
| بَلۡ تُؤۡثِرُوۡنَ الۡحَیٰوةَ الدُّنۡیَا ﴿۱۶﴾ وَ الۡاٰخِرَةُ خَیۡرٌ وَّ اَبۡقٰی ﴿۱۷﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بلکه تاسو دُنياوي ژوند ته ترجيح ورکوئ او آخرت بهتر او باقي پاتې کيدونکے دے. |

معلومه شوه چې کوم بنده دُنيا ته په آخرت باندې ترجيح ورکوي، هغه هيڅ کله خپله اصلاح نه شي کولے، که مونږه صرف آخرت د خپلو خواهشاتو مرکز جوړ کړو نو اِنۡ شَآءَ الله په آسانئ سره به په خپله اصلاح کولو کښې کامياب شو. لږه اندازه اولګوئ! څوک چې صرف د **الله** پاك د رضا حاصلولو خواهش لري، آيا هغه به فرض لمُونځونه قضا کړي؟ آيا هغه به فرض روژو کښې کوتاهي اوکړي؟ آيا هغه به چا ته تکليف ورکړي؟ آيا داسې بنده به د غُصّے په وجه ګناه اوکړي؟ آيا داسې انسان به حسد، تکبر، بدګماني، غيبت، **چُغلي** وغيره اوکړي؟ هيڅ کله نه. معلومه شوه چې څوك د خپلې اصلاح خواهش لري هغه له پکار دي چې خپل زړه او دماغ صرف او صرف د آخرت په باره کښې په سوچ کولو کښې مصروف ساتي نو اِنۡ شَآءَ الله ډير زر به په خپله اصلاح کښې کامياب شي.

زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **لَا يُؤۡمِنُ اَحَدُكُمۡ حَتّٰى يَكُوۡنَ هَوَاهُ تَبِعًا لِمَا جِئۡتُ بِهٖ**۔ په تاسو کښې هيڅ څوک هُم تر هغې پورې مومِن نه شي کيدے تر څو چې د هغه خپل خواهشات زما د راوړې دين تابع نه شي. (1)

عَلَّامه اِبنِ رجب حنبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: په هرمومِن باندې لازم دي چې کوم کار کول **الله** پاك خوښوي، هغه کار سره دِ داسې محبت پيدا

[1]... جَمۡعُ الۡجَوَامِع، جلد:8، صفحه:324، حديث:26624

کړي چې هغه محبت ئې په هٔغه کار کولو مجبوره کړي او د کوم کار کول چې **اللّٰه** پاك نه خوښوي، د هغه کار نه دِ داسې نفرت اوکړي چې هغه نفرت ئې د هٔغه کار کولو نه منع کړي. **(1)**

## د ترجيحاتو بدلولو طريقے

ياد ساتئ! روحاني مرضونه مثلاً غفلت، په نيکو کښې سُستي، د ګناهونو رَغبت، د دُنيا محبت وغيره ټول عام طور د يو نه بل ته لګيدونکي مرضونه دي، ډير کم داسې کيږي چې څه سوچ زمونږ په زړه کښې پخپله پيدا شي، عام طور سوچ د بَهَر نه راځي، مونږ چې څه اورو هغه زمونږ د سوچ حِصَّه جوړيږي، څه چې مونږه لوَلو، څه چې وينو، چې د څنګه خلقو سره کښينو هغه زمونږ د سوچ حصه جوړيږي، که مونږه خپل سوچ بدلول غواړو نو مونږ له د سوچ پيدا کيدلو اسباب بدلول پکار دي، مَثَلًا څوك چې فلمونه ډرامے ګوري د هغې په ځائے دِ مدني چينل کتل شروع کړي، د سندرو باجو په ځائے دِ نعتونه او د عِشقِ رسول نه ډك بيانونه اوريدل شروع کړي، د بيهوده او ګناهونو نه ډکو رسالو په ځائے دِ ديني کتابونه او رسالے لوستل شروع کړي. د دعوتِ اسلامي يو ايپليکيشن دے: *Dawat-e-Islami Digital Services* (دعوتِ اسلامی ډيجيټل سروسز) په دې کښې د دعوتِ اسلامي جوړ شوي ټول د سوشل ميډيا اکاؤنټونه دي، دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ او د دې په مدد سره د دعوتِ اسلامي سوشل ميډيا اکاؤنټ ته لاړ شئ، او د نيکئ په دعوت مشتمل ويډيوز اوګورئ، مختلف پوسټونه پخپله هم اولولئ او نورو ته ئې هُم شيئر کړئ.

---

[1]...جامعُ علوم وحکم، صفحه:397، حديث:41۔

هُم دغسې خدانخواسته که د بدو دوستانو په صُحبت کښې اوسي نو خپل صُحبت دِ بدل کړي، د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنتو ډکه اجتماع کښې دِ شرکت کوي، په مدني قافِلو کښې دِ سفر کوي، هفته واره مدني مُذاکره دِ ګوري، د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَہ عطا کړي هفته وار رساله دِ لولي، که الله پاك ته منظوره وه نو فِکرِ آخرت به ئې نصيب شي، د دُنيا د مَحبَّت نه به خلاصے ورنصيب شي، د ګناهونو نه د ځان ساتلو او جنَّت ته د بوتلونکو اعمالو کولو ذِهن به ئې جوړ شي. اِنْ شَآءَاللّٰه!

مر ګ يادولو سره هم سوچ بدليږي او فِکرِ آخرت نصيب کيږي، يو کس د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او د زړه د سختئ شکايت ئې اوکړو، خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **اِطَّلِعْ فِي الْقُبُور فَاعْتَبِرْ بِالنُّشُور** قبرونو ته کتلو باندې د قيامت په ورځ د راپاڅيدلو په مُعامَله کښې غوروفِکر کوه![1]

## (2) خپله غلطي منل زده کړئ

دويم کار کوم چې د خپلې اصلاح د پاره کول دي هغه د **خپلو غلطيانو پيژندل** دي. خدانخواسته که مونږ بيمار شو نو ډاکټر له ځو، ډاکټر زمونږه مُعائنه کوي، د بيمارئ علامتونه ګوري، که ضرورت وي نو ټسټونه هم راته ليکي، بيا چې کله بيماري معلومه کړي نو دوائي راکول شروع کړي، دا حال د روحاني مرضونو هم دے، تر څو چې بنده خپلې غلطئ اُو نه پيژني، د هغه وخته پورې د هغه اصلاح کيدل ناممکن دي.

ياد ساتئ! خوش فهمي زَهرِ قاتل دے، کوم بنده چې ځان نيك ګڼړي، هغه به په خپله اصلاح تَوجُّه څنګه اوکړي؟ بنده چې کله خپل ځان نيك ګڼړل شروع کړي، نو د هغه

---

[1]...شُعَبُ الْاِيْمان، جلد:7، صفحه:16، حديث:9292۔

هلاکت شروع شي. اُمُّ المُؤ مِنين حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا نه تپوس اوشو: انسان ګنهګار کله جوړيږي؟ اوئې فرمائيل: چې کله خپل ځان نيك ګنړل شروع کړي.(1)

حضرت مالِك بِن دينار رَحْمَۃُ اللہِ عَلَيْہ ته يوه ورځ يو کس آواز اوکړو: "اے ريا کاره!" که د هغوئي په ځائے مونږ وے نو ژبه به مو ترينه غوښه کړي وے خو د حضرت مالِك بِن دينار رَحْمَۃُ اللہِ عَلَيْہ عاجزي اوګورئ! هغوئي مخ ورواړلو او ورته ئې اُوفرمائيل: د شلو کالو نه چا ما ته زما په اصل نوم غږ نه وو کړے، شاباش! تا زه ښه صحيح اوپيژندلم چې څوك يم؟(2)

**اللہ! اللہ!** زمونږه بُزُرګانِ دينو به د نيک کيدلو باوُجود هُم ځان بد ګنړلو خو زمونږه حال دا دے چې مونږه بد يو او ځان نيک ګنړو.

**اے عاشقانِ رَسُول!** په ورځ د قيامت به د مجرمانو په خُله مُهر اولګولے شي او زمونږ د بدن اندامونه به زمونږ خلاف ګواهي ورکوي، اوس خو مونږه په خبرو، په طاقت او منصب او د لوئي عُمر او رُعب په ذريعه د بل خُله بنده کړو، خو په ورځ د قيامت به په خُلو مهرونه اولګولے شي او زمونږه خپل اندامونه به زمونږ خلاف ګواهي ورکوي، بيا به نه د چا د خُلې چالاکي چليږي او نه به ئې دُنيوي زور او طاقت او منصب په کار راځي.

آج بنتا ہوں معزز جو کھلے حَشر میں عیب
آہ! رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یاربّ! (3)

**نن زه جوړيږم مُعَزَّز که د قيامت په ورځې**

---

1...آنسوؤں کا دریا، صفحه:268.

2...تذكرة الاولياء، صفحه:34۔

3...وسائل بخشش، صفحہ:85۔

## زما غيبونه شي ښکاره نو شم رُسوا به رَبـه

يقين اوکړئ! ضِد کول او خپله غلطي نه تسليمول ډيره خطرناکه بيماري ده، چا ته چې څوك خپله غلطي اوښائي او هغه په انصاف سره په خپل کردار غور اونکړي، هغه هيڅ کله هُم خپله اصلاح نه شي کولے. لږ غور اوکړئ! ابوجَهل، عُتبَه، شَيبَه په زمانهٔ جاهليت کښې ځومره عِزَّت داره ګنړلے شو، هغوئي په خپلو سترګو مُعجزے اوليدلې، کانړي ئې په کلمه وئيلو اوليدل، ونې ئې په سجده کولو اوليدلې، سپوږمۍ ئې په دوه ټکړے کيدلو اوليدله، خو افسوس! هغه بد انجامو ضِد اوکړو او خپلې غلطۍ ئې تسليم نه کړې، **اللّٰه** پاك د هغوئي په زړونو مُهر اولګولو او د کفر په حالت کښې مړه شو او د جَهَنَّم خشاك جوړ شو. په اوله سيپاره، **سُوْرَۃُ الْبَقَرَہ** آيت نمبر 7 کښې د دغه ازلي کافرو مُتَعَلِّق ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَ عَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَ عَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ٘ وَّ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ۠(۷) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان : **اللّٰه** د هغوئي په زړونو او غوږونو مُهر اولګولو او د هغوئي په سترګو پردے پرتې دي او د هغوئي د پاره غټ عذاب دے. |

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتـي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ضِد علاج د يو عالِم سره هُم نشته او د وَهم علاج د يو طبيب سره هُم نشته، د چا چې د رهبر (يعنې اصلاح کوونکي) د ذات سره دُښمني وي هغه د هغه د هرې خبرې انکار کوي. **(1)**

[1] …تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقرة، تحت الآية:6، جلد:1، صفحه:151 بتغير۔

**اے عاشقانِ رسول!** غلطي منل بے عِزَّتي نه ده بلکه د عِزَّت خبره ده، معصوم (يعنې د غلطۍ نه بالکل پاك) صِرف انبياء او فرښتے عَلَيۡهِمُ السَّلَام دي، د دې نه علاوه د هر انسان نه غلطي کيدے شي، البته هدايت هميشه هغه حاصلوي څوک چې خپله غلطي مني او په سنجيدګۍ سره د خپلې اصلاح کوشش کوي. په حديثِ پاك کښې دي: **كُلُّ بَنِيْ آدَمَ خَطَّاءٌ وَ خَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ** هر انسان نه غلطي کيږي، او غلطي کوونکو کښې بهترين هغه دے څوک چه توبه اوکړي.[1]

## د خپلې غلطۍ پيژندلو طريقے

امام غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د خپلې غلطۍ پيژندلو څلور طريقے دي:

(1) **وړومبۍ طريقه:** د يو داسې کامِل پير مُريد شۍ چې هغه د نفس عيبونه او باطني مرضونه ښه پيژني، بيا کامِل پير چې څه وائي، د هغې مطابق عمل کوئ.

(2) **دويمه طريقه:** رښتينے او ديندار دوست پيدا کړئ، هغه خپل نِګران جوړ کړئ چې هغه ستاسو په کردار نظر ساتي او تاسو ته ستاسو خامي ښائي. اَئمۀ دين به هُم داسې کول، د اميرُ المُؤمنين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡه په باره کښې منقول دي چې هغوئي به د يقيني جَنَّتي کيدلو او د دومره اوچتې مرتبے لرلو باوجود د ډيرې عاجزۍ نه د حُذَيفَه بِن يَمان رَضِيَ اللهُ عَنۡه نه تپوس کولو: اے حُذَيفَه رَضِيَ اللهُ عَنۡه! تاسو د منافقت د نښو په باره کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راز دار ئې، آيا په ما کښې د منافقت څه نښه شته دے؟

---

[1] ...ابن ماجه، کتاب: زُہد، باب: ذِکرِ توبه، صفحه: 689، حديث: 4251۔

(3) **دريمه طريقه**: دښمن عام طور په بنده كښې عيبونه لټوي، لِهٰذا په څه طريقه چې د دُښمنانو د خُلې نه د خپلو عيبونو نه خبر شئ [او هغه واقعي عيب وي نو] خپله اصلاح اوكړئ.

(4) **څلورمه طريقه**: مومن د مومن آئينه وي، بنده د نورو خلقو د عيبونو په ذريعه خپل عيبونه ويني، لِهٰذا په خلقو كښې چې كوم عيبونه اووينئ، هغه په خپل ځان كښې اولټوئ. حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلام نه تپوس اوكړے شو: تاسو ته ادب چا زده كړے وو؟ اوئې فرمائيل: ما ته چا ادب نه دے زده كړے، بس ما ته د جاهل جهالت بد ښكاره شو نو ما د هغې نه ځان اُوساتلو.(1)

## (3-4-5) مُعَاهَدَه، مُرَاقَبَه، مُحَاسَبَه

څوك چې خپله اصلاح كول غواړي، هغه له پكار دي چې **درې كارونه** په خپل ځان لازم كړي:

**مُعَاهَدَه:** سحر پاڅيدلو نه پس لږ ساعت دِ قبر و آخرت تَصَوُّر كوي، بيا دِ ځان سره وعده كوي چې نن ورځ به په نيكو كښې تيروومم او خپلې ستركې، غوږونه، ژبه او ټول اندامونه به د ګناهونو نه بچ ساتم، پينځه واړه لمُونځونه به د جَمعې [يعني اِمامتئ] سره ادا كووم، چا ته به تكليف نه وركووم، دومره دومره علم به زده كووم، په سُنتو به عمل كووم، دومره ذِكر او تلاوت به كووم، دومره ځل دُرود شريف به وايم، د اذان جواب به وركووم وغيره، بيا په رښتيني زړه د **الله** پاك په بارګاه كښې دُعا اوكړئ او د اِستِقامَت توفيق اوغواړئ.

---

1...احياء العلوم، كتاب رياضت نفس، جلد:3، صفحه:81۔

**مُرَاقَبَه:** بیا ټوله ورځ په مُراقَبه کښې تیروئ. د مُراقَبه معنٰی ده نګراني کول. **CC.TV** کیمره چې عام طور په دُکانونو، غټو غټو مارکیټونو وغیره کښې لګیدلي وي، دې ته په عربئ کښې **مُراقِب** وائي. څنګه چې د دې کیمرے په ذریعه هر هر ساعت، د یو یو څیز نګراني کیږي، دغه شان بنده دِ ټوله ورځ خپله نګراني کوي، د خپل هر عمل نه مخکښې دِ سوچ کوي چې آیا دا کار زما د وعدے مطابق دے یا مُخالف دے؟ امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: روایت دے چې که د بنده عمل هر څومره وړوکے وي، په ورځ د قیامت به ترینه د هغې په باره کښې درې تپوسونه کیږي: ❁ عمل دِ ولې کړے وو؟ یعنې د **الله** پاك په حکم دِ کړے وو که د نفس په منلو دِ کړے وو؟ ❁ عمل دِ څنګه کړے وو؟ یعنې د دې کار کولو چې کومه طریقه، شرائط و ضوابط شریعت ښودلي وو، د هغې مطابق دِ کړے وو که نه؟ ❁ دریم سوال به د اِخلاص په باره کښې وي چې دا عمل دِ د چا د پاره کړے وو؟ د **الله** پاك د رضا د پاره دِ کړے وو که بندګانو ښودنې د پاره دِ کړے وو، یا دِ په غفلت کښې کړے وو یا دِ د دُنیاوي نعمتونو د پاره کړے وو؟ **(1)**

**مُحَاسَبَه:** ټوله ورځ په حالتِ مراقَبه کښې د تیریدلو نه پس بیا دریم او آخري کار مُحاسَبه ده، یعنې بنده دِ د ټولې ورځې د اعمالو مُتَعَلِّق غوروفِکر اوکړي، د خپلو اعمالو جائزه دِ واخلي چې سحر مې ځان سره کومه وعده کړې وه، د څومره نیکو هدف مې چې جوړ کړے وو، نن مې په هغه وعده څومره عمل اوکړو؟څومره نیکئ مې کړې دي؟ د څومره ګناهونو نه بچ کیدو کښې کامیاب شوے یم؟ که په خپله وعده ئې عمل کړے وي نو د **الله** پاك شُکر دِ ادا کړي، نفس ته دِ شاباش ورکړي او آئنده دِ نفس د

---

[1] ...احیاء العلوم، کتاب: مراقبه ومحاسبه، جلد:4، صفحه:485۔

دې نه زياتو نيکو ته تيار کړي، او که په عمل کولو کښې ترينه کمے شوے وي، په خپله وعده ئې پورا پورا عمل نه وي کړے نو نفس ته دِ سزا ورکړي، مثلاً ځان ته دِ اووائي: اے نفسه! نن تا دومره لمُونځونو کښې په جَمعه کولو کښې سُستي کړي ده، لِهٰذا ترڅو چې **50** رکعته نوافِل ادا نه کړم، يوه سيپاره تلاوت اونکړم، تر هغې به تا اوده کيدو ته نه پريږدم. کومه سزا چې مقرره کړي هغه سزا دِ [نفس ته] ورکړي. د الله پاك نه دِ د استقامت دُعا اوغواړي او د راروانې ورځې د پاره دِ بيا کوشش کولو ته تيار شي.

که مونږه دا درې کارونه په استقامت سره مُسلسل کوو نو **اِنْ شَآءَالله** ډير زر به په خپله اصلاح کولو کښې کامياب شو. **الله** پاك دِ مونږ ته په دې طريقه د تللو او د خپلې اصلاح کولو توفيق رانصيب کړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (6) د کامِل پير مُرِيد جوړيدل مه هيروئ

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** که مونږه خپله اصلاح غواړو نو د يو کامِل پير مريد کيدل هيرول نه دي پکار! د پير نه بغير د شيطان او نَفسِ اَمّاره نه بچ کيدل تقريباً نامُمکنه دي.

په حديثِ پاك کښې دي: **اَلرَّفِيْقُ قَبْلَ الطَّرِيْق** يعنې اوَّل د سفر ملګرے اوګوره بيا سفر کوه. [1] سُلطان باهُو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پير ضرورت او د هغه اوصاف بيانوي، فرمائي: مُرشِد د پارس کانړي په شان دے (پارس کانړے يو خاص کانړے دے، وائي چې: کوم څيز ته چې دا کانړے اولګي هغه سره زر جوړيږي، پير هم د دې کانړي په شان وي چې د يو کم حيثيت انسان په خپل نظرِ عِنايت سره اوچتې مرتبے ته رَسَوي او قيمتي ئې کړي،) سُلطان

[1]...معجم کبير، جلد:3صفحه:143، حديث:4257۔

باھُو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ نور فرمائي: مُرشِد د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اخلاقو نه ډك وي، د مور وپلار نه زيات مهربانه وي، د الله پاك لاره ښودونكے، بهترين راهنما، منزلِ مقصود ته رسَوونكے، بندې لارې نه رُكاوټ لرې كوونكے، د دُنيا او مال و دولت نه بےنيازه، د لالچ نه پاك وي او د حق طلب كوونكے كس د زړه او ځا نه هُم زيات خوښوي، پس مُرشِد هغه دے چې **يُحۡيِ الۡقَلۡبَ وَيُمِيۡتُ النَّفۡسَ** چې نَفسِ اَمَّاره مړكوي او زړه ژوندے كوي.

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: نيك اعمال

**اے عاشقانِ رسول!** اَمِيرِاهلسُنَّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د دې دور عظيم علمي او روحاني شخصيت دے، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ پيرِ كامِل دے، **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه** د هغوئي سره تَعَلُّق لرونكو لكونو خلقو په ژوند كښې انقلاب راغلے دے، د كروړونو زړونو اصلاح شوي ده ، د ګناهونو نه توبه ګار شوي دي، **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه** لكونه خلق كاميابئ سره د نيكو ډك ژوند تيروي، تاسو ته مشوره ده چې تاسو هم د دې ولئ كامِل، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ مُريدان جوړ شئ، **د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح كوشش كولو** كښې مصروف شئ، كه تاسو د مخكښې نه د بل پير صاحب مُريد ئې نو بيعت بركت حاصل كړئ يعنې طالب جوړ شئ. كه د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ مُريد جوړيدل غواړئ نو ډيره آسانه طريقه ده، هره هفته د ماسخُتَن د لمَانځه نه پس [د اتوار په شپه] په مدني چينل باندې براه راست (Live) د **مَدَني مُذاكرے** سلسله وي، تقريباً په هره مَدَني مذاكره كښې اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ **بيعت** هم كوي [يعني مُريدان جوړوي]، تاسو هم په مدني مذاكره كښې شريك شئ او چې كله بيعت كوي نو تاسو هم بيعت واخلئ، يعنې مُريد جوړ شئ، د دې نه علاوه د **شُعبه رُوحاني علاج** ذِمَّه دارانو ته يا د

روحاني علاج [يعني تعويذاتِ عَطّاريه والؤ ته] خپل نوم، رابطه نمبر، او د كور مكمله پته اوليكئ، اِنْ شَآءَالله په يو څو ورځو كښې به تاسو ته بيعت نامه ميلاؤ شي.

د دعوتِ اسلامي ويب سائټ www.dawateislami.net باندې د روحاني علاج سروس په ذريعه هم خپل نوم پته ليكلے شئ او د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ نه بيعت كولے شئ.

د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ نه بيعت كيدو د پاره SMS سروس هم موجود دے، دا نمبر نوټ كړئ: **0321-2626112** ، په دې نمبر باندې د بيعت كيدلو د پاره د SMS ليږلو په ذريعه هُم بيعت كيدے شئ.

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د خپلو مريدانو، طالبينو، محبت كوونكو او د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د خپلې اصلاح د پاره بهترينه نُسخه وركړې ده او هغه ده: رساله **نيك اعمال**. دا مختصره رساله د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** نه هديةً حاصله كړئ، كه د دعوتِ اسلامي ويب سائټ www.dawateislami.net نه ئې هُم ډاؤن لوډ كولے شئ او كه نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل كښې ***Naik Amaal***نومې ايپلي كيشن ډاؤن لوډ كړئ، دا لولئ، او د دې مطابق د ژوند تيرولو كوشش كوئ او هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه اخلئ،! اِنْ شَآءَالله د ګناهونو نه د بچ كيدو او د نيكئ كولو ذِهن به مو جوړ شي، زړه به مو پاك شي او كردار او عمل به مو ښكلے شي.

## د ټولې كورنئ اِصلاح اوشوه

د ضلع اټك د يو اسلامي ورور بيان دے چې، ما به د ګناهونو ډك ژوند تيرولو، فلمونه كتل، فضول ګرځيدل، لمُونځونه قضا كول وغيره زما عادت وو، يو ځل زمونږه

علاقے ته د عاشقانِ رسول **مدني قافله** راغله، اسلامي ورونړه د مازديګر لمَانځه نه پس د علاقائي دورے د پاره را اُووتل، يو اسلامي ورور ما ته هم د ماښام د لمَانځه ادا کولو او په بيان کښې د شريك کيدلو دعوت راکړو، زما خوش قِسمتي وه چې زه هغوئي سره جمات ته لاړم، د ماښام لمَانځه نه پس مې چې بيان واوريدلو نو ډير خوند ئې راکړو، د بيان په آخره کښې بيان کوونکي اسلامي ورور د "**نيك اعمال**" نومې رسالے تعارُف اوکړو، د "**نيك اعمال**" رساله کښې مې چې د نيکو نه ډك ژوند تيرولو مدني ګلونه اوليدل نو ډير خوشحاله شوم، په دغه رساله کښې مې د شيخ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د اصلاحِ اُمَّت د پاره زړه سوزيدل اوليدل نو ما زر د بيعت [يعني مُريد کيدلو] د پاره نوم اوليکلو او په عطاري رنګ کښې رنګ شوم، د ولئ کامِل سره مې چې نسبت اوشو نو د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرف ته مائل شوم، د ګناهونو نه مې توبه اوکړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه قبول کړو، د دې په برکت زما اخلاق هُم ښائسته شو، زما د داسې بدليدلو زما د کور په ټولو کسانو باندې هم اثر اوشو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه په قلاره قلاره ټوله کورنۍ د دعوتِ اسلامي ماحول کښې شامله شوه، په کور کښې د لمُونځونو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے، سندرې باجے بندې شوې او په کور کښې مدني چينل چليدل شروع شو. [1]

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!		صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره

---

[1] ...دلوں کا چین، صفحہ:4۔

مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښې زما سره وي.“[(1)]

سينه تيری سُنَّت کا مدينہ بنے آقا	جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا
سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا	جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## نفل روژے نيول سُنَّت دي

**دوه فرامينِ مصطفٰى** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** چا چې د ثواب اُميد ساتلو سره يوه نفلي روژه اونيوله، **الله** پاك به هغه د دوزخ نه د څلويښتو كالو په فاصله لرې كړي. **(2)**

**(2) صُوْمُوا تَصِحُّوْا** روژه نيسئ! صحت مند به شئ. **(3)**

**اے عاشقانِ رسول!** نفل روژے نيول سُنَّت دي، زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضان نه علاوه هم روژے نيولې، مَثَلاً ❁ **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** كښې به ئې تقريباً پورا مياشت روژے نيولې، ❁ د كال باقي مياشتو كښې به ئې هم روژے نيولې، چې كه روژے نيول به ئې شروع كړل نو داسې به معلوميدله چې اوس به كله هُم روژے نه پريږدي، خاص طور ❁ د اَيَّامِ بيض (يعني د اسلامي مياشتې د 13، 14 او 15 تاريخ) روژے. ❁ د ګل او زيارت [يعني پنجشنبه] روژے. ❁ د عاشورے (يعنې د 10 **مُحَرَّمُ الْحَرَام**) روژه ❁ د عشرۂ **ذُوالحِجَّه** (يعنې د لوئ اختر د مياشتې اولنۍ نهه) روژے، ❁ د **شَوَّالُ الْمُكَرَّم** شپږ روژے به ئې په پابندئ سره نيولې. **(4)**

---

1 ...ابنِ عساكر ج۴ص۴

2 ...جَمْعُ الجَوَامِعُ، جلد:7، صفحه:190، حديث:22251۔

3 ...مَعْجَمِ اَوْسط، جلد:6، صفحه:146، حديث:8312۔

4 ...سيرتِ مصطفٰے، صفحه:596۔

**اے عاشقانِ رسول!** د **رَجَبُ المُرَجَّب** بابرکته مياشت روانه ده، د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې د شُعبۀ اِصلاحِ اعمال تحت د رجب د يکم تاريخ نه د نفلي روژو مدني سپرلي دي، د پيشمني اجتماعاتو رونقونه دي، کاش چې! مونږ ته هم په **رَجَبُ المُرَجَّب** کښې د څه نه څه روژو نيولو سعادت رانصيب شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او **قَبْر** کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

## اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

### صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

### اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

### اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاۃ الثانية والخمسون، ص۱۴۹

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

### اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

### جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... تاريخ ابنِ عساكر ،۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵